مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: خالق رشید ۲۰۲۱/۰۴/۱۸

دخدای پامان امریکا
یوازې مسیح
زموږ مرسته کولای شي... ۳ ـ ۵

(ناول)

۲۰۰۶ - ۲۰۲۰ کـــلونه

Google pic

A nowel,about what heppend in Afaghanistan

Only Messiah Can Help Us

By

.Rashid A.K

(۳)

افغانان له موږ سره اوس دمذهب په نامه لکه چې موږدوی ته دترهه ګرۍغمیزه جوړه کړې کومه ستونزه نه لري خودآزادی خبره یې په مخکې شته خوک یې چې تراخلي نو بیایی په وړاندې امریکایان،روسان، ایرانیان، پاکستانیان اودپیغمبردسترګوتورعربان دوی ته یوشی دي...

دستیفن خبرې په هرډول حالاتوکې دده پرملګروباندې ښې لګیدې ، دهرچا به چې زړه په تنګ شو،یابه دژوند اوکوریادونوپه سرواخستل، اویا به چې ددغې ورانونکې جګړې سراوپای نه ورته ښکاریده نو بیا به یې دی غږاوه،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دده په دغو یارانو کې یوهم مایکل و،مایکل له آره مذهبي ځوان و،پرمسیح یې دزړه له کومې باوردرلود، انجیل به یې لوست او دخپلې لوا له پادري سره چې هغه په خپله یوپوځي و،به تل په مذهبي برخوکې ښکرپه ښکرو.ددوی سیاسي کارپوه هم اوس په دې ښه پوهیده چې مایکل څوک دی اوڅنګه دامریکایی کړو وړو په اړه تل په انتقادونوسردی،هغه به ویل چې که وس ولری، کله به هم چا ته اجازه ورنه کړي چې خپل ژوندله زوراوزیاتي سره ملګری اویادظلم له پاره قرباني کړي او یاد د ظالمو ملاتړ وکړي. دده دادول خبرې استخباراتو ته هم رسیدلی وې چې دی په عیسي مسیح باندې پوره ایمان لري ، هره ورځ انجیل لولي، هغه هم د افغانستان په جګړه کې،ان چې کله کله نورو پوځیانوته هم وایي چې که عیسویان یاست انجیل ولولی ،که مسلمان یاست قران اوکه یهودیاست تورات په دې چې ترهغوچې دخدایي کتابوپه لاره ولاړنه شو، موږ دآدم بچیان به دهابیل او قابیل پرورکه لارروان وو، خپله به خپل ځانونه وژنواوپه خپلو وینوتویولو به ویاړکوو... که موږ هریوپرهغولاروباندې سیده ګامونه پورته کړو، هغه چې ددغوکتابولارښونې دي، نوبیابه وینې په وینونه مینځواودآدم په کورکې به هره ورځ دآدم زامن یودبل وینې دځناوروپه شان نه څښي اونه به یې تویوي ...
دپاراشوتي قطعې قوماندان کرنیل (ګرین) ددغه شان کړو وړاووعظوسخت خلاف و، دهغه داسې څوك نه خوښیدل چې هغه به معنوي و، اویابه یې دخدایي کتاب په حواله خبرې کولې، ویل کیدل چې دهغه غورنیکه یویهودي مبلغ و،خو دی اوس نه دخپلو پلرویه لاره ته اونه یې داخوښیده چې څوك دې دعیسي مسیح درسونه اولارښونې دجګړې په دغه تاوده ډګرکې تاوده تاوده هرچا ته اوله هرچا سره وخت ناوخته ووایي . همداوه وجه وه چې داسې سرتیري به یې هم ځانته معلومول، لومړی به یې په نرمه ورته ویل چې، اوس ددی وخت نه دی چې دعیسي مسیح اوانجیل آیاتونه دې په داسې هیواد لکه افغانستان اوعراق کې له هرچاسره وویل شي،هغه په دې باوري و چې دلته عیسي مسیح له موږ سره نه مرسته کولای شی اونه موغږ اوریدای شي ...
اوکه به داهم نه شوه نوبیابه یې یوې سختې جګړې ته استاوه...که به له هغه ځایه ژوندی راغی نوبیابه یې لومړی پوښتنه له هغه داوه چې عیسي مسیح مرسته درسره وکړه اوکه چینوك چورلکو او... ؟؟
خو پرمایکل دادول خبرې نه ښې لګیدې اونه یې هم کوم اغیزورباندې کاوه ... ګرین به تل همدا خبرې په شوراو شرنګ سره ویلې،خو مایکل به یوازې په ترخه موسکا باندې ځواب ورکاوه اوپرې خندل به یې ...

د۲۰۰۵ کال دجون دمیاشتې لومړی شپې ورځې وې چې یوزیات شمرپوځیان له باګرامه داځل دکونړپه لورپه خورا بیړه واستول شول .دمایکل وار په څلورمه الوتنه کې و، یوه شپه ترخپل پرواز دمخه ماري ته ورغلې واوهغې ته یې دخپل سرګردانه ژوند په اړه ټول څه ویلي وو، دخپلې مورپته اودتلیفون نمره یې هم ورکړې وه ، په دې چې ده خپلې مورته هم دکونړ دتګ خبره کړې وه، موریې داځل دده په دغه تګ خورا خواشینې وه، ده هغې ته ویلې ول، چې دغه سیمه پرختیزلوري دافغانستان وروستی برخه ده ... دلته اندکوه اوهمالیا له یوه اوبل سره د وروستې ځل لپاره غاړه غړی کیږي او پرهمدغه ځای له یوه بل سره خدای پامانی کوی،دلته دهندوبارتوتیان اود روه افغانستان ګوربتان له یوه اوبله بیلږي اوهریو په خپلوخپلو لارو اوخپلو پولو باندې درپږي،اوخپل ملکونه یوازې په سړواو تودو موسمو له یوه اوبله سره بیلوی ...
خود مایکل مورپوهیده چې داخوهم هغه سیمه ده چې دلته سکندرهغه لوی واکمن چې نژدې ټوله نړی یې ترخپل نګین لاندې کړه هم سوړاوسیلی وکیښ اوددغې سیمې دننګیالیودغشي واری یې پرپښه باندې ولګید... ځکه یې موردهمدغې سیمې یادونه ورته کړې وه چې :
- څومره چې زرکیدای شي له دغې سیمې څخه ووځه ځکه چې زمازړه نارامه دی اوداخلك ...
په همدغه شپه یې ستیفن هم ولید غوښتل یې له هغه سره خداپامانی وکړي،له هغه یې هم دکونړپه باره کې پوښتنه کړې وه، خوهغه بیاهم ورته ویلې وو، چې :
- خبره هم هغه یوه ده اوهغه هم جګړه او وژنه ... پام دې اوسه چې عیسي مسیح دله یاده ونه وځي، که کله افغان جنګیالیوته ژوندی په لاس ورغلي.انجیل ور وښیه بیا دې ترکرنیل(ګرین)اوامریکا زیات عزت کوي ، هغوی که څه هم مسلمانان دي،خوانجیل ته ترموږ زیات درناوی کوي اوپه درنښت ورته ګوري ...اومسیح دلوی خدای په لویو اودرنوپیغمبرانو کې شمیري ...دوی چې روسان نه منل اوترمرګه یې جګړه ورسره کوله ،دهیواد له آزادی وروسته یې بل لامل دا وچې هغوی که څه هم عیسویان وو ، خو په مذهب اوپیغامبریې ایمان نه درلود. دوی له موږ سره اوس دمذهب په نامه لکه چې موږدوی ته ستونزه جوړه کړې کومه ستونزه نه لري خودآزادی خبره یې په مخکې شته چې دهغې په وړاندې امریکایان،روسان،ایرانیان،پاکستانیان اودپیغمبردسترګوتورعربان دوی ته یوشی دي...

دمایکل دتګ پرورځ په باګرام باندې سخت باران اوریده،داسې چې توربخني لړې اودرانه باد له ورایه په خپل ټول تورتم سره یوې اوبلې خواته بدرګه کاوه ،سخت باران و،کلي په ګردله کې ورك وو،دکلاوو پخسه یې دیوالونه یې داسې سره لانده کړي وو، چې تابه ویل پخه کړې خټه ده اوپه یوه څه منظم شکل سره ولاړه ښکاري ،د بامونوناوې داسې جړیدې چې دیوې شیبې لپاره یې هم آرامتیانه درلوده، دساپیودغره اودکاپیسا پرلوړوباندې تندر له وریځو سره غاړه غړی شوی و، داسې چې فکرکیده دنرمې اولمدې وریځې پرکوریې یرغل کړی اوغواړي هغه په خپله بې ګناهۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

باندې لومړی وچغوي اوبيايي ووژني،دوريځې اوتندرکريږي هرچا اوريدې،خويوچاهم دا نه وې چې تندرظالم دی ، تندر ويني څښونکی دی، بلکې ټولو په يوه غږ لمړيه ګوتوپټاوه او ويل يې که وريځ نه وای تندربه له کومه کيده ، باران به له کومه کيده اوسيلاب به چا جوړاوه اوولي به دغه حال راته ...
خوژوندیو وجدانو بيا داخبره کوله چې تندرظلم کاوه اوټولو ته يې داښوده چې داشان له زوره اوظلمه ډك غږ يوازې اويوازې له داسې چا سره چې ظلم کوي ، وينې تويوي اوله ورانۍ پرته نورڅه نه پيژني ملګری وي ، ظالم ، ظالم دی،اودمينې اوعاطفې دښمن ...
په همدغه حالت کې چې لاهم دتندرغږمبا اودرزا يوې اوبلې خواته اوريدل کيده ،دمايکل ټولې ته امرشوی وچې بايد کونړته دپوځې عملياتولپاره ځانونه دتيارسئ په حال کې ونيسي،مايکل هم ښه تيارې نيولې و، دوی ټول ترچينوك چورلکو پورې له يوشميرنورو ملګروسره ولاړل ، چورلکې ډکې شوې، ددوی يوشميرته وويل شول چې، ترهغوچې بيرته چورلکې راځي اويا له کومې بلې خوا نورې راسيږې بايد انتظارووباسي ...
څوشيبې لانه وې تيرې چې دوې الوتکې راغلې اودتيارسئ سرتيروهغه ټولې چې داوږده لين په اوله برخه کې ولاړوويو دواړوالوتکو ته ورپورته شول. هغوی حرکت وکړاودواړې چينوك چورلکې يوه پرېلې پسې والوتلې .خودمايکل دوی کرښې ته لا وار راونه رسيد.
دمايکل يوشميرملګرې، خواشينی شول ، په دې چې دوی د دومره انتظارتوان نه درلود، خومايکل نه خواشينی واونه خوشاله ، په دې چې هغه خورا زغمناك زلمی و، ده خپلوهغوملګروته چې ډيرتلولې اوبيړني وو وويل : تګ خو مو په مخ کې دی ، څه وروسته اوڅه وړاندې ، خپه کيږئ مه،دڅو شيبوخبره ده ، اوس به يا همدغه چينوك راستنې شي اويا به له کوم بل لوري کومه بله جوړه راشي ...
خو مارتين ورته رامخته ته شو، اوورته وې ويل :
- هو ، ته خودصبربوجی يې،هرڅه چې کيږي اويواقع کيږي، ستا خو هماغه يوه خبره ده ...هماغه يوه خبره .... عيسی مسيح...عيسی مسيح ...اوهرڅه په همدغه باندې پای ته رسوئ اوبس ...
مايکل ورته په قار شو:
- عيسې مسيح څنګه ... زه خوکله هم داسې نيمګړې جمله نه وايم ، زه تل يوه جمله پوره وايم،دزړه له کومې يې وايم اودټولو په خاطرې وايم چې :
عيسې مسيح دې زموږ مل شي ....
مارتين هم دده په همدغه وړه خو پوره جمله باندې وخندل اوهمدغه يې ورته تانه کړه ، ده تردې زيات نورڅه بيا ونه ويل ، په دې چې دی له کرنيل څخه ډاريده اوهغه خوان لاداهم ورته ويلې وو، چې که دغه جمله ستا عادت هم شوې وي، ډيره يې هلته اودلته زموږ په مخکې مه تکراروه...ځکه چې زما نه خوښيږي ...اوزموږترعسکرې قانون لوړه خبره نه ده ...
په دغه شيبه کې چې دوی له چورلکې پاتې شول په همدې خبره يې نوروملګروهم پرمايکل ډيرې ټوکې وکړې ، دوی که هرڅومره په دغه باره کې ددغې خبرې تشريح ترې وغوښته ،خوده ځان ارام نيولې واونوره يې په دغه اړوندخوله هم خلاصه نه کړه اونه يې ددوی خبروته ځواب ورکړ. دملګروله منځه يې ځان پريوه خواکړ،ترې پورته شواوهلته وړاندې دلين په پای کې له يوه بل ملګرې سره چې ددوی داخبرې يې نه وې اوريدلې کيناست .خو مارتين هلته هم آرام پرنښود او ورپسې چغې يې کړې:
- پورته شوې ، په قارشوې ، خپله جمله دې له ياده ووته ...؟
خوده بيا په نيولې غږ ورته وويل:
- ته ليونی يې ، ليونی ... هغه ددېروتکراريدو جمله نه ده ، هغه هره شيبه په ماغزوکې دساتلو جمله ده ...که غواړې چې درته تکراريې کړم نوراشه دلته مې په څنګ کې کينه اوسپنزه خولې دې له غوږوپر يوه خواکړه چې په باورسره يې واورې ... دباورخبرې دکاڼې کرښې دې چې په مينه ليکل کيږي او په وفا ساتل کيږي اويادیږي ...

باران لاهم اوريده ، کله چې چورلکې والوتې همدغه باران راږلی شو، ټول يې پر هرخوا سره تيت اوپرك کړل ، تندرلاهم د آسمان په لوړوکې درنو اوبلاربو وريځو ته ګواښونه کول اوداسې ښکاريده چې لايې هم ځوروي اولاهم ددې لپاره ژمن دی چې د اميدوارو وريځو ديوې ګناه پر ځای ددوو اويادیروهيلودګناوواوينوپورپه غاړه واخلي ، آه خوا دساپې غره له لوړو ديوې درنې سيلې په غيږه کې سپينووارو،اتنونه جوړکړي وو، اوله باګرامه دهغه پرتمين غره دپاسه داسې ښکاريدې چې ګواکې پر دغه لور په کومه ورا پسې را روانې دي ....
پرمايکل باندې دټوکولړی لاپای ته نه وه رسيدلې، پاتې يوشميرنورويارانو يې هم پر مايکل ټوکې وکړې اوخورا ډيريې وځوراوه، د دوی همدغه خبرې اوټوکې لاپای ته نه وې رسيدلې چې کيپتان ګروس په خورا وارخطايې سره واړې ختلې دقرارګاه له دفتره راووت اودوی ټولوته يې خپلو کوټوته دبيرته ستندوبيرنۍ خودتيارسۍ او تياراوسئ قوماندې ورکړه ...
دوی ټول حق حيران شول، په همدغه حيرانۍ کې ټول لکه خواره شوې مرغان په بيرنۍ توګه دخپلوخپلواستوګنځيو پرلورقوماندې شول ،په ټولو باندې يوه ګونګه تبه راغبرګه شوې وه،خو پرې پوهيدل نه،چې دغه يوناڅاپې قوماندې په

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

داسي خواشيني ځيره لکه چي ګروس اعلام کړه دځه په خاطروه او ولي؟په همدغه حال کي ټول په خپلو خپلوسوچواوخپلوکوټوورننوتي ول،اوس هيچا هم په مايکل باندي ټوکي نه کولي ، مايکل خپله هم په دغه شيبه کي يوي درني وارخطا يئ په سراخيستي و،چي ناڅاپه يي ستيفن لکه ملايکه په مخ کي ودريد اوورته ويي خندل، مايکل يي ترلاس يي ونيواوله ځان سره يي يوي خواته کړغوږ ته يي خوله ورنژدي کړه :

- نورنه پوهيږم،ويل کيږي چي يوه پوره چورلکه هغه چي دوی دجنګ دوزخ ته ليږله بي وخته د جنت پرلورواستول شوه ...

سيتفن نورځه ونه ويل اوزرپي ځان له مايکله پربله کړ،هلته يي د دهليزپه هغه سرکي ماري وليده چي وارخطايي مندي وهلي ،داسي ښکاريده چي خپل شيان تياروي اوپه بيرنۍ توګه دتياري اوتګ په درشل کي وه . مايکل ته يي لاس وښوراوه ، کله چي نږدي ورغی، دمورهغه پيغام يي چي همداوس ځوشيبي وړاندي دي ته را رسيدلی و، ده ته وسپاره ،زريي هغه ولوست،هغي دعاورته کړي وه ،ده نورونه لوست يوازي دسر جمله يي ولوسته چي موريي ورته کښلي وو:

- ... په خدای دي سپارم ، بچيه په دي باورولره ...

خودنوري جملي دلوستو لپاره يي وخت ونه موند ...

دوی لاخپلو کوټوته نه وورسيدلي چي وايي واريدل هغه چورلکي چي ګړۍ مخکي ددوی له مخي والوتي ،هغه له خپلوټولو سرتيرو سره په کونړکي را وغورځول شوي ...

اومايکل يوځل بيا خپل کوچني بايبل راواخيست ، په درنښت سره يي پر خپله ټنډه وموښه اودخپلي مور نيمګړي لوستي جمله يي بشپړه ولوسته :

- په خدای دي سپارم ، بچيه ... په دي باورولره چي دمرګ او ژوند په دغه درنه ازموينه کي يوازي مسيح او محمد له موږاوټولو مظلومانو سره مرسته کولای شي... هرچيري چي يي ، هغوی له ياده مه باسه ...

Google pic

(۴)

«... دلته نراوښځي په ژوند او ژواك کي يورنګه دي اوددوی ترمنځ په فکري اوجسمي لحاظ توپيرګردسره نشته، وايي چي سکندرله هنده بيرته په دغه لاره راستون نه شو، په دي چي هغه پوهيده چي دلته پردغي سيمي باندي زورګيران يوازي يوځل يا تللي اوياراغلي...»

او دروند باران لاتراوسه هم اوريده ....

مايکل اوملګري يي يوازي دلندو شيبولپاره انتظارپاتي شول،زريي بله قومانده واوريده چي دوی بايد د زرحرکت لپاره تياری ونيسي،ځوشيبي لانه وي تيري چي بله جوړه چنوك چورلکي راکښته شوي اوددوی يي ديرش ځلويښت تنه دسترګوپه رپ کي دکونړ پرغرونو ور واړول.

په دغه شيبه کي چي دوی په الوتکه کي کيناستل ،دومره آرامي وه چي دهوابوړکی دچنوک تردروندوالي هم دروند درند خوت خوپه ځنګ کي يي دځوانوامريکايي سرتيرو له خولي ان يو ساده سوړاوتود اسويلی هم نه راووت ، داسي آرام ناست وو چي تابه فکرکاوه اوس په ژوندوني دمه تري ختلي او ټول لکه ژوندي مړي داسي چي نه يي څه ويل اونه يي د ځوشيبو مخ کي په شان پرمايکل اومسيح باندي د ټوکو باران په ياد و. ټولو دمايکل خواته کتل خو هيڅ يي هم نه ورته ويل،اوس ټولوته هغه داسي ښکاريده چي ګواکي دده له برکته دوی ټول تراوسه ژوندي دي، دوی دومره ډارشوي وو چي ټولو په چوپه خوله له ځانوسره هغه دمايکل جمله په کراتوکراتو تکراروله ، اوداهغه شيبه وه چي هرچا ته په کي داپته لګيده چي انسان په خپله ټوله لوړتياو ځواکمنی کي ځومره کمزوری اوځومره ناتوانه دی،هغه امريکا يي سرتيري چي اوس يي په نړی کي دکبراوغرور سيال نه درلود،د توري چنوک په زړه کي دخلکو په وينا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

داسې زيړاوزبيښلي ښکاريدل چې که دهريو په تيره توره هم وهلي واى ښايي چې يوڅك وينه به له يوه څخه هم نه واى راڅڅيدلي .دغې شيبې هرچاته دا وريښوده چې انسان کله هم پياوړى نه دى،اوکله هم د ژوند په بيه مرګ ته په خپله خوښه هرکلى نه وايي ....

د دوى الوتکه هم دتيرو دوو تباه شويو الوتکو پرلړ په هماغه شان په هماغه لور روانه وه ، پردوى هم له يوه ساعته وروسته دکونړ دلوړو دروند شمال ولګيد،الوتکه يې په هغو پوځيانو پسې يوه اوبله خوا وګرزيده، هغوى چې همدايوه ګړى دمخه دلته لولپه شوي وو...

لمرلويدلى و، ورځ ناوخته وه ،دمايکل ډله يوې او بلې خوا ته لکه د لړې ليوان سربد حاله اوسرګردانه وګرزيدل، تياره وه ، سيمه هم اوس په دغه تورتم کې له هرې خوا توروګنوونواودنګوغرونو په خپله لمنه کې را نغښتې وه ، دوى خپل هغه ملګرې چې په رڼاکې له دوى بيل شوي وو په دغه تياره کې ونه موندل، دوى په دې نه پوهيدل لکه چې دلته به خلکوويل چې،څوک چې څه په رڼاکې ورک او يا له لاسه ورکوي ، پرهغو پسې په تياره کې کله هم نه ګرځى ،ځکه نو بيرته راوګرزيدل اوپه خپله صحرايي قرارګاه کې له خپلونوروملګرو سره چې شيبې مخکې دلته را رسيدلي وو مات ځانګونه سره مخامخ اوتم شول ...
هغه شپه ددوى ټولو لپاره دقيامت يوه وه ،او ټولو په خورا خواشينۍ سره ترسبا پورې بدرګه کړه،هيچا په هغه شپه لاس خولې ته يونه وور او نه يې څه وخوړل. هرچا له درشيوسره ځانونه پر کټوباندې واچول اود بلې بيړنۍ قوماندې په انتظارپرخپلو ځايو باندې ويښ ويده وغزيدل.
مايکل په هغه شپه لکه دتيرې هغې غوندې سرهوا او سرګردانه نه و،تيره شپه يې دخپل نامعلوم سفرپه باره کې انديښمن و، دجنګ په باره کې يې فکرکاوه،اود خپلې مور دليك اودهغې دانديښنې په باره کې ډوب شوى و،هغه چې پرون ماري په داسې حالت کې چې نوي يې د چنوك چورلکې د نسکوريدواوريدلي وو ده ته ورکړى و، هغه ليک چې موريې په هغه کې ورته کښلي وو :
... ستا ايميل مې ولوست ، تا راته کښلي وو چې دغه سيمه چې تاسې سباورځئ په ختيزلورې د افغانستان وروستۍ برخه ده ، ماپرون په کتابتون کې ددغې سيمې په اړه ډيرڅه ولوستل ،يوچا ليکلي وو چې دافغانستان دغه سيمه ددغه هيواد هغه دنګه اوسمسوره سيمه ده چې سکندرته يې مور ويلې وو چې له دغې سيمې څومره چې زرکيداى شي ووځه... بريمن سکندر پردغه سيمه هندوستان ته په داسې حال کې ور واوښت چې په خپله پښه يې دلته دروند ټپ خوړلى و، داسې ټپ چې ترهندوستان پورې هم جوړ نه شواوويې نه شواى کولاى چې دهندوستان له نرمې اوخوږې هوا څخه د ې خوند واخلي،هو،سکندر دهغه مهال دګنګا اوجمنا په آينه رنګو اوبوکې خپله څيره په خوشالۍ سره ونه ليده، هغه له همدغه زخمه راپه دې خوا نورله ختيز څخه خپل زړه ورو ورو ورټولاوه ، اودايې زړه ته رسيدلې وه چې دلته يې له دغوسره تړليوغرو،له دغوتړليوآينه رنګو سيندونو،له دغو يوموټې اويوه خوله خلکوسره يې دښمنې شوې چې يويې هم ددې لپاره تيار نه دې چې دى وبښې اويا به له ده څخه دخپلې خاورې اوخپلوخلکو،هغوى چې له ده سره يې په سيالۍ اومقابله کې سرونه ښندلي وو، غچ وانخلي ...
هو، خوږه مايکله ،دا هماغه سيمه ده ،دلته، اوس هم هماغه خلك دي اودهماغو خلکولونۍ او زامن...
دلته نراوښځې په ژوند او ژواك يې يورنګه دي اوددوى ترمنځ په فکرې اوجسمي لحاظ توپيرګردسره نشته وايې چې سکندرله هنده بيرته په دغه لاره راستون نه شو، په دې چې هغه پوهيده چې دا هغه سيمه ده چې يوځل کوم زورګير پرې تللي اوياراغلي ، دويم ځلي يې زړه نه دى کړى چې بياد پر راغلي لاره بيرته خپل منزل ته بريمن ورسيږي ...
زه نورڅه نه وايم اونه هم زموږ دواکمنانو دتيروتنې په دغه برخه کې په درد خورې ، پرته له دې چې دعا درته وکړم اوپه هغه خداى چې عيسۍ مسيح يې خپل روح بللى دى تاوسپارم ... په هماغه خداى دسپارم ...
باربارا _ کليفورنيا

مايکل په دغه شپه دغه ليك څوڅوځلې ولوست،دهغه موركه څه هم پرون دغه ليك ليکلي و، خوهغې ته نن څه پته وه چې په دغه سيمه کې چې دې دهغې په باره کې کوم څه لوستي وو، دم ګړۍ په لسګونوامريکايي زلمي دخواشينوونکي مرګ په سفرهره ورځ ځي او راځي .لانن شپه هم نه وومعلوم چې دوى به چيرې په کومه تړه ، په کومه ډه ډه اوکوم خوړ کې مړه اوټپيان پراته وې اوسترې سترې زګيروي به يې يوازې هغه لوى ځواک چې دوى يې پيداکړې اورې او بس اوياکه ژوندي وي، پردوى به دهغوى له خوا چې هره ورځ امريکايي الوتکې ړانده ړانده بمونه په ظالمانه توګه وربانديې اوروي څه نه کيږي؟ مايکل په همدغه سوچ کې وچې نن شپه به څومره امريکايي مينديې،هغوى چې په رښتيا هم لکه ده غوندې مينديې لري دخپلو زلميوزامنو په اړه څه څه خوبونه نه وينې ؟
مايکل ته خوب نه ورته ،دشپې ترناوخته پورې ويښ و،کټ يې له کړکۍ سره نږدې پروت و، دغره په سرکې چې دافغاني پوځيانو کومه پوسته پرته وه،له هغې څخه دسرتيرواوپيره دارانو غږونه اوريدل کيدل،دهغوى يوشميردتيارې شپې په زړه کې ستوروته سندرې ويلې اودتودو تودو اوسويو سندرو انګازې يې دلته راکوزپه امريکايي قرارګاه کې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هرې خواته خوريدې خوڅوک نه پرې پوهيدل ، نه پوهيدل چې په دغو غږونو کې به دوی په دغه توره شپه کې څه دردونه وايې اوڅه ډول سازونه اوسوزونه به په کې زمزمه اوغبرګوي ...
سمه نيمه شپه وه،چې يوه سرتيرې ددغې سيمې يوه پخوانۍ سندره په خپل سوې غږ کې پورته کړه چې انګازې يې ددغې اوهغې خواغروپه منځ کې داسې خپريدې چې تا به ويل همدغه آوازدوه کسان په يوه غږ کې وايې :
اودکونړ غلام محمده _ بادپل ته مه ځه
اوساپوډيروژلې دينه ... د کونړ غلام محمده .... بادپل ته مه ځه ....
نيمه شپه وه، چې مايکل له مسافرخان څخه چې له دوی سره يې دژباړونکې په توګه کارکاوه ددغې سندرې دژباړې هيله وکړه،اوهغه هم په لنډو کليموکې ورته وژباړه اويوڅه يې ددغې سندرې دتاريخ په اړه هم ورته وويل ...
اومايکل ته يې دموردليك پرونۍ کرښې يوځل بيا په ذهن کې ورتاوشوې :
... او دوی ددې لپاره تيار نه دې چې دی وبښې اويا به له ده څخه دخپلې خاورې اوخپلوخلکو ،هغوی چې له ده سره يې يه سيالۍ اومقابله کې سرونه ښندلې وو، غچ وانخلې ...
دنيمې شپې دغې سندرې دده خوب نورهم وتښتاوه ، له کړکۍ به يې چې دباندې وکتل ،سترګې يې له لوړو څوکو پرته پر بل څه نه لګيدې،آسمان ته به يې وکتل،خوهيڅ يې هم په کې نه ليدل، دی دغه حالت هم حيران کړی و، دده فکرته به تل داخبره ورتله چې دلته هم لکه ديورپ اوامريکاديوشميرسيمو په شان سړی تل دلوړوغروله پاسه دشنه آسمان ننداره نه شي کولی ، په دی چې دشنه آسمان مخ دلته تورو وريځو پوښلی وي او سړی نه شي کولی چې په پرانيستو سترګواو خلاصو مټودهغه ښه ننداره وکړي ...هو، دلته خبره ډيره ګونګه ده ...
دلته غرونه ډيرلوړ او فکرونه ډيرټيټ، ځکه خو څوک دلته ددغه ځای، ددغه وطن اودغوخلکوپه ډيرو رازونو باندې پردې، هغه هم يرغلګر،زرنه شي پوهيدای..

Google pic

(۵)

«...موږ دلته مرو، موږ به دلته يوازې هغه څوك وژنې چې موږ يې وينه توې کړې ،
موږ دلته مرو ... مرو مرو ....

اومايکل ته په هغه شپه ترډيرو پورې خوب نه ورته... يوازې يوه شي چې ده ته يې ددغې سيمې په زړه اودغه تورشورماشورکې خوند ورکاوه هغه دسيندد اوبوغړمباوه،چې د شپې،دتورې شپې تورتم وهلی آرام يې لکه ځوانه نڅاګره چې په نيمه شپه کې دسازله لومړې تال سره دخپل پايزيب دشرنګا لومړنۍ شرنګ پيلوي داسې ماتاوه،يوشمير چې دکونړدسيند دغه شرنګا اوغړمبايې يې اوريده ، فکربه يې کاوه چې دوی ته يې دخپلې ناويلې مينې دشورحماسه پيل کړې ده، اودا رښتيا وه ، هغوی چې خوبونه يې نه کول،سوچونه يې وهل ، له هغوی سره يې ټوله تياره تر رڼا پورې په خپلو کيسوبدرګه او ملتيا به يې ورسره کوله....
له مايکل سره هم دکونړدسيند په خپله شرنګا او غړمباکې دغه زړه وړونکې يارانه پيل کړې وه ځکه نو په دغه سوچ سوچ کې دستيفن خبره ورياده شوه هغه چې ده ته يې ويلې وو: - خدای (هغه تلپاتې) چې موږ يې پيداکړي يو،موږ ټولوته مرګ اوژوند يوځل راپه برخه کوي او په ټاکلې نيټه يې بيرته رانه اخلي اوکه نه ماپه توره بوره کې هرڅه په سترګوليدل، له هغه ځايه يوازې يوڅو تنه ژوندي راووتو چې يوپه کې زه وم زما لپاره زما باداردمرګ هلته نه وليکلې ...

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د همدغې خبرې په ګرداب کې دخوب څپه پرې راغبرګه شوه، شکېدلې اوسرګردانه خوب په خپله غېږ کې له ځان سره ونغښت...
هغه ویده شو،خو دڅپاند سیند دڅپو شرنګايي په خوب کې هم آرامي ورنارامه کړې وه، خوب يې ليده چې دده نژدې ملګرى رومن چې نن په چنوك چورلکه کې وژل شوى و، په خوب کې ورته وايي :
ـ ناځوانه،ما وتا خوله کليفورنياڅخه يوځاى او په يوه ډله کې راغلو، تا ولې زه يوازې پرېښودم ، ولې له ماسره يوځاى رانغلې ...
له هغې سپينې رڼا (اشاره دسيند داوبو دڅپوپرلور)غېږراځې اوراته وايي :
- ته څوك يې؟ ته خداى پېژنې ؟ کله دمورنه وو درته ويلې چې دخداى پربندګانوتيرى مه کوه ؟ په دې نه پوهيږې چې دلته ولې راغلى يې ؟ ولې ؟ ته دامريکا د واکمنانوبنده يې که دهغه چا چې هغه پيداکړى يې ؟ ولې راغلى يې ؟ ولې راغلى يې ؟ ولې .... ؟؟؟
دسيند دزړه سپينې رڼاڅو شيبې نورې هم دغه پوښتنې ترې کولې ، خوچا هم ځواب ورته ونه وايه ،سيند يې ورته توپانې کړ، داسې چې هيڅ هم په کې نه ښکاريدل اوهرڅه يې سره ګډوډ کړل ...
له ډيروشيبووروسته يې دسيند له منځه يې د رومن مخ راوتلى وليد ، چې همدايې ترخوله راوتل اوپرمايکل يې دسيند له منځه چغې راوهلې :
- مايکله ! موږ دولې لپاره ځواب نه لرو، موږ دلته مرو، موږ به دلته يوازې هغه څوك وژنې چې موږ يې وينه توې کړې ، موږ دلته مرو ... مرو مرو ... په دې چې دلته زموږ په وړاندې په هره خواکې يوازې يوه اوږده جمله خپلې انګازې خپروى اوهغه داچې :يوه ورځ به ددغو بې ګناه اوښکو تاوده تاوده ځاڅکې ورو ورو له سيلاب سره مله کيږې اوزموږ په وړاندې به په يوه سمندر باندې چې موږ به ټول ډوبوې ځان بدلوې ....
لاسپيده چاودخپل نيمزالى څرك نه و،وهلې چې بيګانې تيارسې پوځيانوته اشاره وشوه اودمايکل خوب هم په نيمايې کې همداسې نابشپړپاتې شو،هغوى يې بيا دصحرايې قرارګا ه په سمڅه کې سره راټول کړل اوټولو ته يې د القاعدې سړې وژونکوپه اړه دپرونې يرغل په ټولې خبرې وکړې ، دوى ته يې داهم وويل چې دوى به الوتکې، چورلکې په دې نژدې پنځوکيلومترومربع کې بدرګه کوي ، په دې چې پرون دشلوپنځه ويشتو په شاوخواکې پوځيان له هرڅه سره په يوه چنوك کې له دوى څخه ترې تم شوې ځکه نو نن بايد هغوى په هرشان چې کيږې ومومي ...
مايکل هم په دغه ډله کې و،مخکې تردې چې دخپلې دندې پر لور ولاړشي ، يوځل يې ځان دماري دکوټې په لور ورورواهه ، خو داچې ډيروختې واوتياره وه ، هغه يې ونه ليده، ماري هم پرون له دوى سره راغلې وه ، پرهغې دمايکل ځکه زړه تکيه و، چې هغې هره ورځ دده له مورسره رابطه کوله، اوهغه يې د ده له حاله خبروله، په مايکل باندې خپله مور خورا ګرانه وه، په دې چې دده مورده هرڅه وه ،سره له دې چې په لويديزکې کله د يوچا زوى اولورتراوولس اواتلس کلنۍ پورې ورسيږې ،زياتره مينې اوپلرونه اوياهم خپله هلك اوجلۍ ددې لپاره تيارى نه لري چې په يوه کوراويوه کورنې سستم کې ژوند سره وکړي، له يوه اوبله بيليږې اوهرڅوك دچا خبره لکه ځنګليان په خپله خپله ځې اويايې موراوپلار له ځانه شړې .
خو مايکل بيا داسې نه و، هغه خپلې مورته په رښتينې توګه درناوى کاوه اوهغه يې دخپل ژوند رمزاوراز بلله ،هغه ته به تل دا په زړه کې ورتيريده چې که دى يې خپلې مورته لکه يوشميربې پروا زامن اولونې چې خپلومينداوپلروته په سپکه سترګه وګورې اويا يې دعمر په دغه تيره برخه کې يوازې پرېږدې نوبيابه دخداى اودهغه دپيغامبرهغې پوښتنې ته چې په دغه اړه به يې يوه ورځ ترې کوي څه وي ؟ ټول کتابونه وايې چې خداى له هرچاته په هغه دنيا دموراوپلاردعزت اوبې عزتې له امله وړتيا او سزا ورکوي ، مايکل په دغه اړه تل له ځان سره داسوچ کاوه چې که دى دخپلې مور بې عزتې وکړي نو بيا به څنګه دى خپل سپيڅلې کتاب ته ګورې اوڅنګه به بيادخپل چم ګاوندې کليساته هلته چې ټول عمر يې له ځان سره بيوه په داسې حال کې چې دمورپه وړاندې يې ګناکړې وي قدم ورايږدې ...

دهغه موربه اوس هرسهار په کليساکې دبې بې مريمې هغه انځورته چې کوچنى مسيح به يې په غيږکې نيولى و ولاړه وه اوله هغوى به يې دخپل زوى دسلامتۍ مرسته غوښته ، همداوه چې که مايکل په دې نه پوهيده چې پلار يې څوك واو ولې يې دى اومورپه هغو شپو ورځوکې چې موريې ځوانه وه اوسختې پرې راغله يوازې پرېښودل خوپه دې ډيرښه پوهيده چې دموردعايې مل وه اوددغې تلپاتې دعا په هيله يې ځان دسرواورونو ډيرې ته ورکړى واونن دلته په کونړکې په مات زړه دانسان وژونکې امريکايى واکمن په امريې نامعلوم ترهه ګرلټول ...
په دغه سهار هم دوى ټول ددغو غرنيوشنوځنګلونوپه لوريې وخوځول شول ، مايکل هم پرته له دې چې نن ماري وګوري اوله هغې دخپلې مور حال اودعا واخلې په خپله دنده له خپلو ملګرو سره لکه دتل په شان مات زړه ووت.
ده خداى ياد کړاوخپله موريې ياده کړه چې بايد دده مله او مرستندويه شي ، ځکه ده په ټوله نړۍ کې نه پرچا باوردرلوده او نه يې هم هيله ورته وه ، ده به تل خپلوملګرو ته ويل چې دخداى باور او دمورپلار ملتيا دانساني ژوند دوړتيا اصلې لاملونه دي ...

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هواپه هغه سهارخورا ښکلي وه ، دشنه ځنګل خوري وري وني دسهارترلمرڅرك دمخه وړمو داسي په ناز اونزاکت سره ښورولي چي تا به وي دوی هم ددغو نويو راغلوسرتيرود هرکلی په چم خپلي څني خوځوي،خودوی د دغو ونو په دغه تاوده هرکلي نه پوهيدل ، امريکايي يرغلګروځواکونواوس له هرڅه ديوه وحشت اوبدمرغی تعبيرکاوه ، اوهرڅه داسی ورته ښکاريدل چي تا به وي دوی خوري ... هغوی ته غرونه لکه ليوني پيريان اوياهم لکه دافسانوهغه ويني ځښونکي ديوان اوښاماران ښکاريدل چي يوا زي يي په وينوباندي ګوزاره کيده. په وينو، دهغوی چي دلته له بل ځايه راغلي وو اودوی ته نااشناښکاريدل... دوی ته افغانستان په تيره بيا کونړ او کندهار داسي ښاماران ښکاريدل چي د بابا آدم له زماني بيا داتوم ترپيره پوري چا نه مات کړي وو اونه يی وژلي وو.ځکه دوی په دغه زمانه کي چي دنړی اتمي بمونه هم ورسره ووبياهم له کندهاراوننګرهاره لکه له افسانوي ښامارانو ډاريدل ځکه چي دوی دهغوی په وړاندي لکه چي مايکل او ستيفن به ويل پيره وو ، ملامت وو او يرغلګرو وو....
مايکل ددغه سهارپه عملياتوکي له جيم سره ملګری و، هغه د ويرجنياوسيدونکی و ، اوترده دوي اوونی دمخه دلته راغلی و.په دغه سهار هم دوی دواړه يوځای روان وو له لري يي هلته يوه خوا ګونګيان اوټپوسان دوچوونواوکمرونو پرسرو اوڅانګو ترسترګوشول او بل خوايي په پرله پسي توګه د کارغانو کاغ کاغ کريږي يوه پربله پسي واوريدي ، ځکه نوالبرت چي ددوی د ډلګی مشرو په ډاريدلي آوازسره وويل :
- پام پام ، چي ددغو توروکارغانو کاغ کاغ اودغه پرګټوباندي ناست ناشولته ټپوسان بي څه نه دي ، افغانان وايي چيري چي دغه ناشولته ټپوسان اوکارغان ليدل کيږي ، هلته خامخايا انسانان اوياهم حيوانا ت وژل شوي اودمځکي پرمخ پراته وي ...افغانان داهم وايي چي داهغه ټپوسان دی چي دوی دمځکي پرمخ مړه شوي پړي په خوب ويني اوله خوب ليدو سره سم ځانونه ورته را رسوي ....
کوم يوه غږپري وکړ:
- ددي مانا داده چي زموږ مړي هم په همدغه شاوخواکي دي ...
البرت بيرته ځواب ورکړ:
- ماخپله تجربه نه ده کړي خوافغانان په دغه برخه کي تجربي لري . ماهم له هغوی اوريدلي ....
پتريک :
- زه فکرکوم چي دغه شان خبري بي بنسټه هم نه وي ...
جيم :
- کيدای شي ...

څوقدمه لانورنه ووتللي چي ترخپلوسترګولاندي يي دچورلکي ټوټي اويوي اوبلي خواته خوري وري ويني اوغوښي ترسترګوشوي،خپل کيپتان ته يي په مخابره کي وويل چي دوی نښي نښاني موندلي بايد ددوی پرخوا راشي .
اوهغه دټپوسانو نښه سمه وخته،هلته په يوڅوشيبوکي ټول سرتيري له هري خوا سره راټول شول اوله هري خوايي دخپلو يارانواواندیوالانودغوښو اونښو دردونکي ننداره کوله اومايکل دغه انځورته اوس په ځيرځيرسره کتل اوپه ذهن کي يي يوازي دغه ټکي ځای نيولی و چي دخدای خليفه (انسان) په څه ډول دانسان په وړاندي دوحشي حيواناتوپه شان بي رحمه کيږي ...ولي يوشميرديوه هيواد، ديوي مورلمنه دهغي دزامنوپه وينورنګوي...
دمايکل پر زړه اوذهن باندي زموږ دخلکو په وينا اوس د تورو وينوڅپه راغلي وه ... اوچي کله يي اوس دغو يوازي خورو ورو وينو اوغوښوته کتل ، نه پوهيده چي دغه حال څه وبولي ؟
- يوڅوك شته چي په دغه شيبه کي زما دزړه په درد پوه شي ؟ يوڅوک شته چي ددغو غوښو او وينو دميندو اوکورنيوچي څوک يي ويني پراحساس پوه شي ؟ يوڅوک شته چي ددغو وينواوغوښود درد اومرګ په زارپوه شي ؟ دده دغوټولو پوښتنو ته يوازي يوه ټکي پوره ځواب ورکولای شو چي هغه و « نه ، نه او بياهم نه » ...
مايکل په دغه شيبه کي ژړل، دده مخي ته اوس خوري وري غوښي او ويني نه يوازي پرتي وي بلکي فکرته يي ورتله چي هغه سرتيري چي يوه ورځ دمخه يي دباګرام په هوايي ډګرکي له ده سره ټوکي کولي همداشيبه دده مخي ته تيك ولاړدي اوورته وايي :
- ستا خوهماغه يوه خبره ده ...
- هو ، هماغه يوه خبره ...
- هغه چي دويمه نه شوه ...
دکرنيل خبره وريباده شوه چي دهغه مړی هم اوس په دغه ډله کي لاندي باندي شوی و،هغه چي تل به يي ده غوندي کسانوته ويل :
- عيسي مسيح مرسته درسره وکړه که زموږچنوك چورلکو....
په همدغه سوچ سوچ کي همالته ځای پرځای راولويد ، البرت ته يي وويل چي پرسريي يوڅه اوبه ورباندي واچوي ...هغه اوبه ورباندي واچولي ، خو بياهم بي حاله پروت و،داسي چي ماشينګړ يي پريوه خوا لويدلی واودی پر بله خوا، البرت روغتيايي ډلي ته خبرورکړ، دسترګو په رپ کي هغوی راورسيدل ، ماري هم په دغه ډله کي وه ، هغه هم راورسيده اومايکل يي له هغه ځايه ګرزنده روغتيايي مرکزته دسترګو په رپ کي ورساوه.خوهلته تراوسه يوازي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مایکل نه ورسیدلی بلکه له سهاره تراوسه دری نورسرتیري هم چې دوویې کټ مټ حالت درلود اودیوه پښه پر مین الوتلي وه دلته راوړل شوي وو.
مایکل تردوو ورځو پورې را په حال کې نه شو، ماري خورا ورته خواشیني وه ،
هغې یې مورته هم نه وو ویلي چې پرمایکل باندې داسې حالت راغلی ، په دې چې هغې په دې باورنه شو کولای چې گواګي زوی ته یوپه یوداسې عصبي شوک پیداشوې دی ، ځکه دیوه چا لپاره چې په جګړه کې وي ، هغه هم په داسې جګړه چې هلته اوراوګولی سره اوري ، دعصبي شوک خبره دباورورنه وي ،ځکه نوکه هغې ته داخبررسیدلی هم وای ، یوازې یې همدایوفکرکاوه چې دهغې زوی مړشوی اوکه مړ هم نه وي نوټپي شوی خو خامخا په کوم روغتون کې پروت دی...

مایکل ،دوی ورځې وروسته را په حال کې شو، دلومړي ځل لپاره یې سترګې په ماري ولګیدې،له هغې یې لومړی پوښتنه داوه چې دده مورڅه حال لري ، خو هغې زر داډ ورکړی و، چې هغې ته یې داډ ورکړی اوددغې پیښې یادونه یې هغې ته نه ده کړې ...دمایکل زړه آرام شو، خوتراوسه یې هم دیوه درانه درد احساس یې کاوه ، خونه پرې پوهیده چې چیرې دی اوڅنګه ؟ ...
ماري ته یې هم داخبره یاده کړې وه چې دیوه ناڅرګند درد احساس کوي ...هغې داډ ورکړی و، او ورته ویلي یې وو چې دوه شپې تا خورا بد حالت درلود ... ډیرفکرمه کوه ،خدای لوی دی ، چې په یوه دوو ورځوکې به ګردسره ارام اوجوړ شي . ستا پرماغزوباندې یوناڅرګند فشار راغلی و ... کله چې پرمغزو باندې فشار راځي هلته انسان له دردونو خامخا ځوریږي...
اومایکل هم نورڅه ونه ویل ، د مخامخ هنداري پرخواچې نوی لمرتري را لویدلی و وکتل ، دغره لوړتیا ته یې وکتل ، اودهغه په اوږدو اولنډوکې یې دشنو ونو خورو خورو څانګوته چې آرام شمال په نازسره خوځولې ،په کټ کې رااوچت شو، دکونړ دسیند مستی ته ځیرشو، اودهغه له لیونیواومستو څپو سره یې خپل کاته وغزول ...په دغو څپوکې داسې ډوب شوی و، چې تا به ویل په رښتیاهم دی خپله په کې لویدلی اوپه نامعلومه خوایې په سراخستی دی ...
دی لاپه همدغه سوچ اوهمدغه ننداره کې ډوب و چې ماري بې مورته تلیفون کړی و، او اوس هغه پرمزي وه چې له ده سره خبرې وکړي. له هغې سره یې خبرې وکړې ، خو بیایې هم ورته ونه ویل چې پرده باندې داسې یوه مرګوني څپه راغلې ده ، خومورییې نارامه بریښیده ،دی نه پرې پوهیده چې ولې ، په پیل کې خوده فکروکړ، چې ګواکی مور یې دده په ناروغۍ باندې خبره ده ، ځکه نو دی هم په خپلوخبروکې یوڅه سره ټکنی غوندې شو، خو وروسته داسې ورته څرګنده شوه ،لکه چې مور یې په عین حال کې چې له ده سره خبرې کوي ، ژاړي ،مایکل په دغه کار خورا خواشینی شو، هغه پوه شو، چې موریې پرې خبره ده ، په اوچت غږ یې ورته وویل :
- موري زه جوړ یم ...پر ما څه نه دي شوي ...
خود مور یې ژړا نوره هم تیزه شوه ،اوپه ژړا ژړا کې یې ورته وویل :
- پوهیږم ،چې ته جوړیې ... ته خبرنه یې چې دلته څه شوي دي ؟
مایکل وارخطا غوندې شو :
- موري ، موري څه ؟ راته ووایه ....
- زویه ، نیمه امریکا په کاترینا توپان لاهو شوې ، ته لاخبرنه یې ، خبرونه نه اوري ؟
- دڅه شي توپان ؟ دڅه شي کاترینا...؟
- په نیواورلن کې کاترینا توپان لګیدلي ، داسې چې دمځکې په سریې هیڅ شی جوړنه دي پریښي ... په زرګونو انسانان له منځه تللي اوتردغې ګړی پورې هم خلك داوبوپه سر پاتې دي ، هیڅوك نشته چې مرسته ورسره وکړي ، حکومت هم خپله تراوسه ویده دی ...
- کاترینا ؟! داڅه اورم ، ستاسې خواته څه خبره ده ؟
- نه دلته خو تراوسه څه خبره نشته ... نن دریمه ورځ ده چې ترور ته دې تلیفون کوم ، نه هغه اونه یې هم میړه اوزوی ځواب وایې ... خدای دخیرکړي ...
مایکل دخپلې مور او دکاترینا په غمیزه باندې پوه شوځکه یې مورته وویل :
- موري دخپل ځان په فکرکې اوسه ... له کوره مه وځه ...
دمایکل ترور په نیو اورلن کې اوسیده ، دهغې زوی دده همزولی و، مایکل او موربه یې داوړي په رخصتیوکې هلته ورتلل اوهلته به یې له دوی سره څو شپې ورځې تیرولې،خو اوس هلته توپان دمځکې پرسرهیڅ شی نه وو پریښي اوهرڅه دکارترینا دقهرڅپواوسیلیو له ځان سره وړي وو. په نیواورلن کې زیاتره توران اوسي ، په امریکا کې سره له دې چې ددموکراسې ناري سورې وهي تراوسه هم تور،تور دی اوسپین سپین، دادول توپانونه یوازې یو، یاڅو په کال کې پرامریکا باندې راځي ، هغه چې ډیرتیزاوورانوونکي وي،هغه دښځې په نامه یادوي اوهغه چې ډیردرانه او ورانونکي نه وي ، هغه ته دنارینه نوم ورکوي .سږ ددغه توپان نوم کاترینا و، چې په زرګونو اوسیدونکي یې دمرګ میلمانه کړل اود زرګونو نورو یې بیا شتمنۍ اوکورونه له منځه یووړل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سر پردغه سیمه باندې کاترینا لکه دلیونیو پرانګانانو په شان په هرڅه خولې لګولې ، په زرګونو کورونه دغه توپان په خپل قهرسره وران کړل اوپه هغه هیواد کې چې اوس یې دنړی په سرځان خدای باله نه شوکوای چې ددغه حقیقي خدایي کارپه وړاندې یوه وړه چاره هم وکړي،غمیزه په دی کې وه چې دلته داڅو شپې کیدې چې ویل کیدل کاترینا راتلونکي ده... خودایي نه ویل چې کله اوپه کومو شیبوکې به دلته رارسیږي ، ماناداچې خلکوته یوازې دومره ویل شوي وو، چې ښامار راځي ، خوداچې کله به دلته را رسیږي اویاداچې خلکوته باید مخکې له مخکې ویل شوي وای ، داکارنه وشوی ،داسې لکه چې په نورو وختوکې به خلک له داسې خطرونو څخه خبریدل. خلکو به ویل داچې په دغه سیمه کې ترټولو زیات تورپوستي اوسیدل ، همداوه چې نه دحکومت اونه هم دنورو مسوولینو زیاته اندیښنه له دغو خلکو سره وه ، همداوه چې زیاتره اوسیدونکي لا په خوب ویده وو، په زیاترو خوپه نڅاځایو او شرابخانوکې دغه ملاماتوونکي توپان دیوالونه اوبندیزونه ور ونړول اوپه توره تیاره کې یې ګرد سره یووړل ، خوحکومت او چارواکي داسې ویده وو، چې نه یې دپولیسودفتروخلکو ته ځواب ورکاوه اونه هم داسې څوك وو ،چې په دغه حالت کې یې دسلګونو ماشومانوچغې اوفریادونه اوریدلې وای .

دترومپ مور په هماغه شپه په داسې حال کې چې اوبه یې تر سینې ورپورته شوې وې له ترومپ سره دعراق په فلوجاکې دخپل موبایل له لارې خبرې کولې ، موریې فریاد ورته کاوه چې اوبه وار په وار راباندې راپورته کیږي،هیڅوك نشته چې ومې ژغوري ، زوی یې هلته چې نن یې ترلسو زیات پوځي ملګري له لاسه ورکړي ووخپلې مورته په غریوناکه ژبه وویل :

- موري، پریږده چې تاهلته سیلاب یوسي اومادلته ځانمرګي بریدونه ووژني ، زموږ ظالم واکمن ټول اوس یوازې تیل په خوب وینې ،هو، تیل هغه چې موږ ته زموږ دوینو په بیه لویږي،هغوی ستاسې اوزما په فکرکې نه دي ، هغوی خپله خپله سوداګري پیل کړې اوپه هغې باندې بوخت دي ... ځان دې خپل خدای ته وسپاره اوله مسیح څخه مرسته وغواړه ... هغوی چې په وینو تیل رانیسي،څرګنده ده چې هغوی به دا فکرهم کړي وي چې که یې په دغو تیلو باندې اورولګیده نو بیا باید څوك په کې وسوځي ؟ زه او ته .... هو موري ځان په خدای وسپاره ، وګوره که کومه وړه بیړې دچیرې مخې ترهغو چې ډوبیږي درغله په کې سپره شه ... اوکه نه نوبیا نوځان خدای ته وسپاره اودپښتنودغه لنډۍ په زوره زوره ورته دامریکا حکومت ته یادګارپریږده اوچغوچغو ورته ووایه :

پرپرده چې خړ سیلاب مې یوسي په لامبوزن آشنا مې ډیره نازیدمه .

اومایکل دچینوک دیارانودمرګ په شوک څوورځې له روغتون څخه دباندې راونه ووت. !

Google pic

پاتې لري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ